# Pakhtunkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه

## ۲۳/۲۲ مه ګڼه ۲۰۰۲/۲۰۰۱ کال




Jahrg./vol:2001/2002/14 nummer/ no: 22/23

## PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN**
**PARTEI DER PASCHTUNEN Paschtunchwa/Afghanistan**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan**

**V.S.I.P / Responsible for Contents:**
DR. KABIR STORI
RICHARDSTR. 5
50389 Wesseling - Germany
Tel.: 0049 2236 83463

## Editorial Board /Redaktion د خپروني جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسېد) |
| Hedayat Bangash | هدايت الله خان بنګښ |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Nasir Stori | نصير ستوری اپسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړی |

www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net

خپرونکي: د پښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

**Herausgeber**: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen
Paschtunchwa/Afghanistan
**Publisher**: Pashtoons Social democratic Party (PSDP)
Pashtoonkhwa/Afghanistan

زمه وار
**V.S.I.P.**
**Responsible for Contents**
ډاکتر کبير ستوری
**Dr. Kabir Stori**
**Richard Str. 5**
**50389 Wesseling**
**Germany**
Tel.: 0049-2236/ 83463
Fax: 0049- 2236/ 841930

**Redaktion:**

| Editorial Board: | دخپرونی جرګه: |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | عليخان محسود |
| Hidayat Bangash | هدايت بنګش |
| Mabariz Zapi | مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Abdul–Nasir Stori | عبدالنصير ستوری |
| Gulgutai Kunarai | ګلغوټی کونړی |



# پښتون/افغان قامي وحدت

د ۲۰۰۰ ع کال دنوامبر د مياشتې په ۱۴ مه او ۱۵ مه نيټه په پېښور کښې د پښتونخوا قومي ګوند مرکزی صدر ښاغلی محمد افضل خان( خان لالا ) په نوښت او زيار د پښتون/افغان قوم نماينده او تاريخي جرګه جوړه شوې وه. پدې جرګه کښې دلمړی ځل لپاره د هيواد دننه او بهر د پښتنو ټول سياسي، ټولنيز او قومي مشران او پوهان په يو ټغر باندې راټول شوی وو.

د پښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند (Pashtoons Social Democratic Party (PSDP مشر ښاغلی ډاکتر کبير ستوری، او د مشرانو د جرګې غړو هريو ښاغلی حاجي فضل الرحمن شير، ښاغلی محمد شيرين ګرديوال، ښاغلی مبارز ځاپی، ښاغلی انجنير حبيب الرسول، ښاغلی هدايت بنګښ او همدا راز ښاغلی صلاح الدين قاضيخيل برخه اخيستې وه. جرګې د پښتون/افغان قوم دقامي وحدت پريکړه وکړه• ( دجرګې مقالې او ويناګانې چاپ او دپښتونخواد پوهنې د ديرې، پېښور، په زيار په کتابي بڼه کې خپرې شويدی)•

پدې سلسله کښې د پښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند (Pashtoons Social Democratic Party (PSDP د ۲۰۰۱ م کال د اګست د مياشتې په ۲۵ نيټه د پښتون/افغان قامي وحدت ترعنوان لاندې په جرمنی کښې يو پوهنيز سيمينار جوړ کړ • ددې سيمينار مشر ميلمه د پښتون/افغان قومي وحدت د تحريک مشر( کنوينير ) او لارښود خان لالا محمد افضل خان وو.

په سيمينار کې د جرمنی سربيره د ټولې اروپا څخه د پښتنو سياسي، ټولنيزو او قومي مشرانو او پوهانو او شخصيتونو(سرېتوبونو ) په ګڼ شمير کې ګډون کړی وو•

سيمينار د ماز يګر په پنځه نيمو بجو د ښاغلی سيد محمد هاشم پاچا صاحب لخوا د قرانکريم د څو اياتونو د ترجمې او تفسير سره پيل شو • د پښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند (PSDP) مشر ډاکتر کبير ستوری راغليو ميلمنو او حاضرينو ته هرکلی ووايو او په خپله لنډه وينا سره ئې سيمينار پرانست• وروسې د جرمنی سوسيال ديموکرات ګوند (SPD) له اړخه د پښتنو او المانيانو د سوسيال ديموکراتانو د ډلې مشر ښاغلی ډاکتر ګونټر ايکيلی او د (PSDP) ددارالانشاء مشر ښاغلی ډاکترشير افضل ګرديوال او وروسې د سيمينار مشر ميلمه ښاغلی خان لالا محمد افضل خان برخه والو ته خپلې مقالې واورولې، • د ګوند د لمړی مرستيال ايڼو کيټ علي خان

محسود، مقاله د ښاغلی ملالی ګردیوال لخوا ولوستل شوه ، د ګوند د ښځو د ټولنی د مشری
میرمن ښاپیرۍ شینواری پیغام د ښاغلی ځانګی شینواری له خوا وړاندی شو • بیا د ګوند دوهم
مرستیال محمد شیرین ګردیوال خپله مقاله او د ګوند د مشر سلاکار حاجی فضل الرحمن شیر
خپله وینا برخه والو ته واوروله . دسیمینار دوهمه برخه د موسیقی برخه وه چې د
پښتو دخوږ ژبو سندرغاړو ښاغلی مشال او ښاغلی محمد نادر صدیقی په ښکلو پښتنی سندرو
ښکلی شوی وه • سیمینار د ماخستن په یوولسو بجو پای ته ورسید •

**د پښتون /افغان قومی وحدت د غونډو سلسله :**

دغونډو پدی سلسله کی د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند (PSDP) د فرانکفورت ځانګی په
(۲۰۰۱/۹/۱۳) نیټه د المان د فرانکفورت په ښار کی غونډه جوړه کړی وه • د ګوند
د فرانکفورت د ځانګی په مشرتابه ښاغلی لالا اقبال په لنډه وینا سره غونډه پرانسته، ښاغلی
نصیر ستوری د خان لالا لنډه سوانح (بیوګرافی) ولوستله • وروسی ښاغلی ایهوکیټ صفدر
خان، ښاغلی ببرک دقیق ، ښاغلی پوهاند ډاکتر ګل جانان ظریف او ښاغلی مبارز ځاپی
مقالی او شعرونه حاضرینو ته وړاندی کړل بیا ښاغلی خان لالا محمد افضل خان برخه والو ته
وینا وکړه او د حاضرینو پوښتنو ته ئی ځوابونه وویل •

ښاغلی پوهاند ډاکتر محمد قاسم جمدر او ښاغلی سرمحقیق زلمی هیوادمل د
مونشن ګلادبخ د کلتوری ټولنی له خوا په (۲۰۰۱/۹/۱۲) نیټه د المان د مونشن ګلادبخ په
ښار کی غونډه جوړه کړه • وروسی د پښتون سوشل ډیموکراتیک ګوند (PSDP) د بلجیم
ځانګی مشر ښاغلی رحمن بریالی په (۲۰۰۱/۹/۸) نیټه د بلجیم د ګنټ په ښار کی غونډه
جوړه کړه • او په (۲۰۰۱/۹/۱۵) نیټه ښاغلی ولسوال سید احمد همدرد د هالنډ په
(Felendal) ښار کی غونډه جوړه کړی وه •

په دغه غونډو کی د پښتنو سیاسی، ټولنیزو، ادیبانو او پوهانو او شخصیتونو (سرپټوبونو)
ګډون کړی وو •

ښاغلی خان لالا محمد افضل خان دغه غونډو برخه والو ته وینا وکړه او د حاضرینو خبری ئی
واوریدی، د پښتنو په یووالی ئی رڼا واچوله او د هغوی پوښتنو ته ئی ځوابونه وویل •



# دپښتون / افغان قامي وحدت پوهنیز سیمینار

## تـــه

## د پښتون قامی وحدت لارښود او د پښتونخوا قومی پارټۍ مشر ښاغلی محمد افضل خان [خان لالا] وینا

ګرانو خویندو ، ښاغیلو هیوادوالو افغانانو / پښتنو او په المان کی میشته ملګرو
او راغلیو میلمنو!

خوشـاله یـم، چـې نـن بیـا د پښتنـو/ افغانـانو خواخـوږي ملـګري
راغونـډ شـوي دي او پـه دې خـبره بـاندې غـور کـوي چـې د روانـې پـېړۍ د




تقاضو سـره سـم مـوږ لـه څه کـول پکـار دي اوبـایـد کومـه لاره غـوره کـړو
چې خپـل قومـي وحـدت وګټو.

د المـان ننګیـالو افغانـانو/ پښتنـو تـه آفریـن وایـم، چـې دوی د



پـېښور د جـرګې تسلسـل دلتـه برقـرار وسـاتو او هیلـه لـرم چـې ډېر زر
بـه د پښتنـو/ افغانـانو پـه نـورو کلتـوري او سیاسـي مرکزونـو کـې هـم
دغـه شان غونډې وشـي. ملـګري یـې پـه تیـارولوکـې بوخـت دي او کـه الله جلّ
شانُه تـه منظور وه نـو ډېر زر بـه د مثبـت او راسـت اقـدام جـوګه شي.

ملـګرو! زه خپـل ننـنی تقریـر لـه هـم هغـه ځایـه پیـل کـوم، کـوم چـې
مـا پـه پـېښور کـې ستاسـو وړانـدې کـړی وُ او پـه چـاپ شـوي شـکل کـې
ستاسـو مخکـې وړانـدې کـړی و، وجـه دا ده چـې پـه دغـه تقریـر کـې مـا
هغـه بنیـادي مسـئله پـه ګوتـه کـړې وه کومـې سـره چـې مـوږ لـه ډېرې
مـودې راهیسی مخـامخ یـوو. د پښتـون / افغـان قـوم مسـئله پـه دوی کـې
د قومـي وحـدت نشـتوالی دی او زه پـه دې عقیـده یـم چـې کـه نـن د



په عکس کی د پښتون /افغان قومی وحدت د پوهنیز سیمینار یوه ځنډه لیدل کیږی



پښتـون/ افغـان قـوم وحـدت پـه ځای شـي، نـو ډېرې مسـئلې بـه ډېر زر
پـه خپله حل شي. البتـه بـاید هغـه عوامـل د نظر نـه محوه نـه شي کـوم
چې د پښتـون/ افغـان قـوم پـه لار کـې خنـډان شـوي دي او نـن هـم نـه
غـواړي چـې دا پیـاوړي او بـاتور قـوم د زمـانې د حـالاتو سـره سـم خپـل
ځان راټول کـړي او د ترقـۍ او سـوکالۍ خـوا تـه ګام پورتـه کـړي.

مـا د خپـل تقریـر پـه سرکښـد تـاریخ د فلسـفې ذکـر کـړی وو او دا مـې
ویلـي وو چـې د تـاریخ د فلسـفې پـه تـل کـې دا حقیقـت غزوونـي کـوي،
چـې تـاریخ د قـامونو روزنـه کـوي او دا چـې د اصـل تـاریخ د لرغونـي
تـاریخ نـه الـهام اخلـي، مـا دا خـبره هـم کـړې وه، چـې پښتـون قـام د
تـاریخ د روزنـې نـه محـروم پـاتې شـوی دی. مـا د دغـې علتونه هـم بیـان
کړی وو خـو پـه خپـل ننني تقریـر کـې غـواړم چـې دغـه مسـئله لـږه ژوره
وڅېړم او هغـه وجوهـات پـه ګوتـه کـړم چـې زمـوږ د قـام ځوانـان یـې د
خپل تاریخ له روزنی نه محروم پاتی کړیدی • اولنی وجه دا ده چی د پښتون
/ افغان قوم د تاریخ په اوږدو کی په قبیلوی انداز کی ژوند کړیدی او تر ډیره
حده نن هم دا قوم د قبیلوی ژوند په مقابله کی قامی ژوند خوا ته ندی راوړیدلی •
نتیجه ئی دا ده چی نن پښتون / افغان قوم په دی ټوله نړی کی یوازی داسی قوم
دی چی قومی وجود ئی د جوړښت او سنبالښت منزل ته ندی رسیدلی •

د المـان پـه خـاوره ولاړ یـوو، راځئ چـې د تـاریخ پـانې ولـټوو او
وګورو چـې المانیـان یـا جرمنیـان د کومـې دورې نـه تـېر شـوي دي او
نـن چـې د یـو سـنبهال او عظیـم الشـان قومـي وجـود لـه عملـه د نـړۍ پـه

سیالانو قـامونو کـې شـمار دی، نـو ولـې؟ پـه ابتـداء کـې د جرمـن قـام حـالات پـه هـم هغـه ډول وو کـوم چـې د پښتنـو/ افغانـانو وو، یعنـې دا قـام هـم پـه قبیلـو کـې تقسـیم وو. د قـامي وجـود فقـدان دا قـام د نـورو قـامونوپـه مقابلـه کـې کمـزوری کـړی وو. پـه کـال ۱۸۶۶ کـې بسـمارك د جرمـن قـام د وجـود د راغونـډولو تکـل وکـړو. د پنځویشـتو وړو ریاسـتونو یـو فیډریشـن یـې جـوړ کـړو، چـې دوه ویشـت پکـې خودمختـار بادشـاهان وو. بسـمارك دا خـواره واره ملـګري د قومـي وحـدت پـه زنځیـر وتـړل او نـن هـم دغـه جرمـن قـوم د یـورپ د ټولـو نـه مضبـوط قـوم بللـی شـي. د قومـي وحـدت د جذبـې برکـت وو چـې د دویـم نړیـوال جنګ نـه وروسـته پـه څلـورو ټوټو کـې ویشـلی شـوی جرمـن قـام خپـل قومـي وحـدت پـه ډېره لـږه مـوده کـې پـه ځای کـړو. د برلـن دیـوال یـې پـه لتـو او پـه سـوکونو ونـړاوه د بسـمارك نـه ډېره مـوده وړانـدې پـه کـال ۱۷۰۹ کـې یعنـې د اورنـګ زېب د مـرګ نـه صـرف دوه کالـه وروسـتو مـیرویس خـان د پښتـنو د آزادۍ او خپـل واکـۍ بنیـاد کېښودو. مـیرویس بابـا پـه تدبـر او سیاسـت کـې بـې مثـال سـړی و، هغـه چـې کلـه پـه کندهـار کـې د پښتنـو / افغانـانو قومـي جـرګه راوبللـه، نـو پـه دې خـبره پـوه ؤ، چـې پښتـون/افغـان قـام لاد قبیلـوي ژوند‡نـه راوتـی نـه دی، نـو ځکـه یـې پـه خپـل تقریـر کـې وویـل :" کـه چـرې تاسـو کـې داسـې خلـك هـم وي چـې هغـو د آزادۍ پـه دې لـوی نعمت چـې خدای پـاك مـوږ تـه پـه اسـانه نصیـب کـړو، خوشـاله نـه وي،



نـو هغـوی دې ځان څرګنـد کـړي. داسـې خلـك بـې شـکه د دې آزاد ملـك د پـولی نـه بـاهر ځانلـه یـو نـوی ظـالم حکمـران غـوره کـولای شـي". خـو قـوم پـه یـو خولـه او یـو زړه هغـه تـه دا ډاډ ورکـړو، چـې د ګټلـې آزادۍ بـه پـه هر قیمت دفـاع کـولای شـي. دغـه آزادي صـرف یـو کـم دېرش کالـه یعنـې د کـال ۱۷۳۸ پـورې برقـراره پـاتې شـوه. د ایـران لـه خـوا نـه نـادر



پهعکس کی دپښتون/افغان قومی وحدت دپوهنیز سیمینار ځنلړی لیدل کیږی



شاه افشـار یـو ځل بیـا کندهـار فتـح کـړ، خـوپـه پښتنـو کـې د حریـت او آزادۍ کومـه شـمع چـې مـیرویس بابـا بلـه کـړې وه، د هغـې پلوشـې یـو ځل بیـا پـه کـال ۱۷۴۷ یعنـې نهـه کالـه پـس د نـادر شـاه افشـار تـر وژل کېدو سره سـم څرګنـدې شـوې. احمـد شـاه بابـا یـو ځل بیـا افغانـان د



پهعکس کی دپښتون/افغان قومی وحدت دپوهنیز سیمینار یو ځنلړه لیدل کیږی

وحـدت خـوا تـه راغونـډ کـړل. پښتانـه/افغانـان د یـو آزاد او خودمختـار قـوم پـه حېثیـت پـه بیـن الاقوامـي سـطح وپېژنـدل شـو. د پښتـون/افغـان قـوم پـه جدیـد تـاریخ کـې چـې د کـال ۱۷۰۹ او کـال ۱۷۴۷ پـه منـځ کـې چـې کـوم واقعـات منـځ تـه راغلـل، هغـه ډېر لـوی اهمیـت لـري. پـه ۱۷۰۹ کـې د پښتـون/افغـان قـوم د وحـدت او ملـي اتـل والـی وړومبـۍ تـېږه مـیرویس بابـا کېښوده. او پـه کـال ۱۷۴۷ کـې احمـد شـاه بابـا د مـیرویس بابـا د "قومي وحدت" پـه تصـور د افغـان/ پښتـون د قومـي اقتـدار مـانۍ پـه داسـې ژورو بنیـادونو وخـېژولـه، چـې نـن هـم موجودیت لـري، خـو بـاید ووایـم د پښتـون/ افغـان د وحـدت دغـه مـانۍ د ۱۷۷۳ نه د احمـد شـاه بابـا د وفـات نـه پـس د خپلـو او پـردو لـه سازشـونو لاندې ده او دوام لـري.



د جرمـن قـام د قـامي وحـدت چیمپیـن بسـمارك او د پښتـون قـوم د قومـي وحـدت قهرمانان میرویس خـان او احمـد شـاه بابـا د مقـاصدو پـه لحـاظ یـو شـان شـخصیتونه وو. بسـمارك پـه خپـل مقصـد کـې دایمـي کامیـابي حاصلـه کـړه او هـر څو کـه پـه المـان غـم لړلـي واقعـات هـم تـېر شـول، خـو جرمنیـانو دغـه د مصـایبو او قومـي زوال مـوده نـه صـرف پـه ژونـدۍ جذبـه تـېره کـړه، بلکـې بریـالي تـرې نـه را ووتـل. پـه مقـابل کـې پښتـون/افغـان قـوم د احمـد شـاه بابـا نـه وروسـته د زوال خـوا تـه لاړل. وجـه یـې دا وه او دا خـبره د تـاریخ لـه پـاڼو نـه ثابتـه ده، چـې پښتـون افغـان قـوم د هغـه بیـن الاقوامـي او داخلـي سازشـونو مقابلـه ونکـړی شـوه، کومـو سـره چـې دوی د ۱۷۷۳ نـه وروسـتو مـخ شـول. هـم دغـه وجـه وه چـې د قومـي وحـدت تصـور وده ونکـړه. هغـه کـوم بیـن الاقوامـي سازشـونه وو او هغـه کـوم داخلـي سازشـونه وو، چـې د پښتـون/افغـان قومـي وجـود یـې لکـه د وینـو وخوړلـو. لـه داخلـي سازشـونو لـه وجـې نـه پښتـون/ افغـان قـام د خپـل کلتـور او ژبـې حفاظت ونکـړی شـو. ژبـه او کلتـور پـه یوقـوم کـې څومـره اهمیـت لـري، د هغـې اندازه د یـو برتانوي مفکر د دې قـول نـه کېږي چـې وایـي:

"Let England Lose every thing that she has, if she can retain Shakespeare she has lost nothing."

ترجمـه یـې داسـې ده کـه پرنګیـانو هـر هغـه څه بـایلل، چـې دوی سره دي، خـو کـه شکسـپیر ژونـدی وسـاتي، نـو داسـې وګڼه چـې دوی هـېڅ نـه دي بـایللي. دغـه شیکسـپیر د انګلیسـي ژبـې او کلتـور

Symbol ګڼلی شي. راځئ چې لږ ځان ولټوو، چې زموږ د ژبې او کلتور څه حال دی. خوشال خان بابا د پښتو ژبې یو بې مثاله شاعر تېر شوی دی. خوشال بابا د یونیورسټیو ګریجویټ نه وو، خو د هغه افکار د هند د مشهور شاعر علامه اقبال په شاعرۍ کې د روح په شان غړېږي. څومره پښتانه دي چې د خوشال د مقام نه خبر دي.




دجرمنی سوسیال دیموکرات ګوند SPD له اړخه دپښتنو او المانیانو دسوسیال دیموکراتانو دډلی مشر ډاکټر ګونټر ایکیلی دپښتون/افغان قومی وحدت دپوهنیز سیمینار ګډون کوونکو ته دوینا په حال کی

د هغه شاعري یې لوستې ده او د هغه په شاعرۍ کې پټ د قامي وحدت د ابادۍ پیغام نه واقف دي. ما د پېښور په خپل تقریر کې دا خبره کړې وه، چې دې خبرې ته د افغان قوم بدمرغي ووایو او که د ایران له خوا کلتوري یرغل، چې د احمد شاه بابا غوندې بې مثاله پلار زوی تیمور شاه د خارجي کلتوري یرغل مقابل کې د



پلار ګټلې آزادي بایله. دغه د پښتون/ افغان قوم د تاریخ یوه المیه ده. زه نن په دې تاریخي موقعه خپله دا وینا د تاریخ پاڼو ته امانت پرېږدم چې داسې چیرې هم نه کیږي، چې یو قام دې په اقتدار حاوي وي، خو د هغه ژبه دې د اقتدار او انکشاف نه محرومه پاتې شي. ما دا خبره هم کړې ده، چې د آخري بارکزي حکمران تر وخته پورې په افغانستان داسې خلکو حکومت کړی دی، چې په ختمه افغانان/پښتانه وو، خو په خوی خصلت او کلتوري جامه د خارجي تهذیب او تمدن نماینده ګان وو او ځکه په ډېر یقین سره دا خبره یو خل بیا کوم، چې په افغانستان د کال ۱۷۷۳ نه وروسته اقلیت د اکثریت د یو نماینده په ذریعه په اکثریت حکومت کړی دی او هم





دپښتون/افغان قومی وحدت دغونډو سلسله: په عکس کی دمونشن ګلاډبخ دغونډی ځنډی ګډون کیږی



دغه وجه وه، چې د ملي وحدت او تشخص کومه رڼا د احمد شاه بابا نه په میراث کې پاتې شوې وه، هغه غیر موثره شوه. ظاهره ده چې د جرمن قوم له قومي اقتدار سره د هغوی ژبه هم د فطري اصولو سره سمه مقتدره شوه او داسې قامي وحدت ئې پیاوړی شو، غاصبانو په څلورو ټوټو تقسیم کړو، خو دوی د قومي وحدت د عزم په برکت په پینځه څلوېښت کالو کې بیا خپل وحدت ترلاسه کړو. پښتنو او افغانانو خپله آزادي او قامي وحدت د آلمانیانو نه څه له پاسه سل کاله اګاهو حاصل کړی وو، خو دوی پښتو ژبه د خپل اقتدار په دور کې هم مقتدره نکړه. په اقتدار کې پردۍ ژبه وه، نتیجه یې دا شوه، چې قام د تقسیم نه څه لپاسه سل کاله پس هم د قومي وحدت نه محروم دی، بلکې د قامي وحدت د ترلاسه کولو د ژوندي عزم نه هم محروم پاتې دی. په دې وجه زه ټولو پښتنو/ افغانانو سیاست مدارانو ادیبانو او شاعرانو ته خواست کوم، چې خپلې ژبې پښتو ته د ودې ورکولو کار ته جوخته توجه ورکړي، چې نه یوازې پښتو ژبه مخ په وړاندې لاړه شي، بلکې د پښتنو/ افغانانو د قومي وحدت عزم هم پیاوړی شي. په خارجي ملکونو او المان کې آبادو پښتنو میاندو ته په تکرار سره بیا وایم، چې په خپلو بچو د موجوده دور ساینسي علوم او ټیکنالوجۍ زده کړي. پردۍ ژبه دې هم زده کړي، خو چې پښتو هېره نه کړي. که پښتو یې هېره شوه، نو نور به هر څه شي، خو پښتانه به پاتې نه شي.



په خپل نننی تقریر کې زه دا ویل غواړم چې د قومي وحدت په مسئله یو قدم مخکې لاړ شم او هغه عوامل تاسو ته په ګوته کړم، چې د پښتون افغان قوم د بېسوادۍ، بې مالۍ او قومي عدم استحکام سبب ګرځېدلي دي. دا ځکه ډېره ضرري ده، چې هر هغه څه چې موږ ورته قومي ترقي او اقتصادي توان او مضبوط والی وایو، د هغې انحصار په موجوده نړۍ کې صرف او صرف د قدرتي منابعو او وسایلو په موجودګۍ او ادراک پورې اړه نه لري، بلکې د دغه منابعو د استعمال لپاره د عزم او ارادې سره د سواد یعنې تدریس او تکنیکي پوهې ضرورت وي. په تیتو پرك او منتشر پروت قوم کې دغه اصلي او ارفع اقدار هم بې مطلبه شي، ځکه چې وګړي د اعلی مقاصدو حصول ته قومي غیرت او احساس چمتو کوي، اکثر لیدل شوي دي، چې د منتشر قوم صلاحیتونه او قربانۍ د نورو په ګټه تمامېږي، د هند د ازادۍ مثال زموږ په وړاندې دی.

احمد شاه بابا د ډیلي تخت د دې لپاره پرېښود، چې د پښتون خوا د غرونو سرلوړۍ ارمان وو. هغه د قومي حکومت بنسټ د پښتونخوا خاوره ګڼله او موږ د اقتدار او سرلوړې سرچینې یعنې خپل قامي وحدت ته فکر ونکړو او ځکه استعمارچیانو ته زموږ د قامي وحدت د خورولو موقع په لاس ورغله. د اورنګزېب د مرګ نه وروستو د کال ۱۷۰۹ نه واخله تر کال ۱۷۴۷ پورې د پښتون

افغـان د تـاریخ دوه ډېر اهـم واقعـات پـه داسـې ترتیـب منـځ تـه راغلـه، چـې هغـې دا خـبره ښـځـي واضـح کـړه، چـې د برصغـیر او مرکـزي آسـیا ترمنځـه کـوم قـوت موجـود دي پـه دې منطقـه کـې هـم دغـه قـوت، قـوت قایمـه بلل کـېدای شـي. د پرنـګي حکومـت پـه هندوسـتان ډېر پـه آسـانه قـایم شـوی و. د ۱۸۳۶ پـورې پرنـګي دا ګڼلـه، چـې پـه هنـد کـې د طـاقت تـوازن د هغـه پـه حـق کـې دی او دا چـې پـه هنـد کـې د مغـل اقتـدار چـې بنیـاد یـې د پښتـون/افغـان قوم پـه مـټو او عسـکري قـوت



دپښتون/افغان قومي وحدت دغونډو سلسله: په عکس کې دمونشن ګلاډبخ دغونډې ځنډې لیدل کېږي

وو. اوس بـې معنـی شـوی دی، ځکـه چـې پـه افغانسـتان کـې د خپـل قومـي حکومـت د تشـکیل نـه وروسـته پښتنـو د مغـل حکومـت د ملاتـړ نـه لاس اخیسـتی دی. د پرنـګي دغـه تفکـر پـه پنجـاب کـې د سـیکهانو



د اقتـدار قـایمېدو سـره نـور هـم تقویـه شـو او هغــه دا وګڼلـه چـې د مرکـزي آسـیا د لارې د هغـه هنـدي مسـتعمرې تـه کـوم خطـر وریـښ دی. د هغـې د مخنیـوي لپـاره د افغانسـتان پـه خـاوره کـې یـوه خپلـه پـوځي چـاونۍ جـوړول غـوره عمـل دی. هغـه قوت قایمه پـه افغانسـتان کـې د افغـان/ پښتـون قـام پـه حیثیت موجـود و، د پرنـګي پـه فکـر ختـم شـوی و. دغـه د پرنـګي یـوه سـهوه وه. هـر څو کـه پښتـون/افغـان د داخلـي سازشـونو ترمخـه د ریاسـتي اقتـدار نـه غورځېدلـی او د ډېر سـخت امتحـان سـره مـخ و، خـو د دوی قومـي وحـدت پـه ځای و. د دوی د طـاقت سـرچینـه د دوی د جغرافیـایي سـتریټي جیکـي پوزیشـن او پـه قـامي معـاملاتو کـې د مکمـل وحـدت



دپښتون/افغان قومي وحدت دغونډو سلسله: په عکس کې دبلجیم دغونډې ځنډې لیدل کېږي



د مظـاهرې کولـو صلاحیـت و، چـې د پرنـګي لـه نظـره پـټ و، هغـه د افغانسـتان خـاورې تـه ورننوتـو خـو د کـال ۱۸۴۱ د نومـبر پـه میاشـت کـې درې ځایـه پـاڅون وشـو. پـه کندهـار، بـاجوړ او کونـړ کـې پښتانـه د پرنـګي خـلاف راپورتـه شـول. د دوی پـه تقلیـد د خیـبر اپریـدي هـم میـدان تـه راووتـل. د دغـه تحریکونـو نـه د امـیر دوسـت محمـد خـان زوی اکـبر خـان ښه پـوره فـایده واخیسـته. د ژمـي پـه موسـم کـې یـې پـه پرنـګي حملـه وکـړه، مېکنـاټن یـې د بالاحصـار خـوا کـې ووژلـو او پرنـګي مراجعـت پیـل کـړو، خـو افغانـانو د غرونـو منـځ کـې راګیـر کـړو او پرنـګي یـو داسـې تـاریخي شکسـت وخـوړو، چـې مثـال یـې د دوی پـه تـاریخ کـې نـه شـته. د پرنـګي څه لـه پاسـه دیـارلس زره اوه سـوه او څلـور دېرش پوځیـان مـړه شـول، صـرف یـو ډاکـټر برایـډن ژونـدی پـرېښودی شـو، چـې د تباهۍ خبر یـې جلال آباد تـه ورسـاوه.

پـه ظـاهره دغـه د برتـانوي اسـتعمار یـو نظـامي شکسـت وو، خـو د دغـې شکسـت سیاسـي آغـېزې ډېرې ژور وې. دا خـبره پرنـګي تـه څرګنده شـوه، چـې تـرڅو د یـو قـوت قایمـه پـه تـوګه پـه افغانسـتان کـې پښتـون/افغـان قـام موجـود وي د هنـدي مسـتعمرې د سـلامتیا ضمـانت نـه شـي کـېدای. دغـه خـبره د دې حقیقـت پـه تنـاظر کـې نـوره هـم اهمـه ښکـاره شـوه، کلـه چـې د کـال ۱۸۳۰ پـه دوران کـې د روسـي حکومـت یـو اسـتازی د امـیر دوسـت محمـد خـان سـره پـه کـابل کـې ملاقـات وکـړو. پرنـګي پـه دې خـبره پـوه شـو، چـې د ګړنـګ غرونـو پـه



منـځ کـې د خپلـې اصلـي وسـلې سـره د پرنـګي د شکسـت وجـه دا وه چـې د پښتـون/افغـان قـوم د قومـي وحـدت جذبـه ژونـدۍ وه او دوی یـې د مبـارزې لپـاره میـدان تـه راوویسـتل او د خپلـې آزادۍ تحفـظ تـه یـې وګومـارل پـه دغـه اسـاس پرنـګي د افغـان قـوم د قومـي وحـدت د پـاره پـاره کولـو فیصلـه وکـړه.

د پرنـګي نـه مخکـې مغـل هـم د پښتـون/افغـان قـوم د طـاقت د ختمولـو کوشـش کـړی و، خـو د هغـه پـه مقـابل کـې پښتـون پـه اجتمـاعي شـکل کـې ولاړ و او پـه اجتمـاعي ملـي شـکل کـې پښتـون بلاشـبه د مرکـزي آسـیا او برصغـیر تـر منـځـه د قـوت قایمـه حقیقـت لرلـو. اکـبر اعظـم د یوسـف زو خـلاف څلـور ځلـه فـوج کشـي وکـړه، خـو بریـالی نـه شـو. آخـر سـولې تـه مجبـور شـو. د مغـل حکـوت پـه اوږد دور کـې سـره د دې چـې د پښتنـو حقیقـت د رعیـت وو، خـو د ازادۍ خـوی او د ملـي افتخـاراتو تفخـر یـې پـه هـر حـال ژونـدی و، ځکـه مغـل د دوی مقـابل کـې ناکـام شـو. تـر دې پـورې ویـل کـېږي، چـې د مغـل اقتـدار پـه زېړه بشـره کـې د اقتـدار سـرخي د افغـان پښتـون قـوم د ځوانـانو د مسـتې وینـې لـه کبلـه وه. هـر کلـه چـې د اورنـګزېب پـه زمانـه کـې پښتنـو/ افغانـانو د سکهانو او مرهـټوپـه مقـابل کـې د مغـل د ملاتـړ نـه لاس واخیسـت نـو دغـه اقتـدار د خـزان ځپلـې پـاڼې پـه شـان راپرېوتـو. د پـاني پـت پـه میـدان کـې د احمـد شـاه بابـا پـه مشـرۍ کـې پښتنـو/ افغانـانو ځوانـانو د لاسـه درې لکـه مرهـټه ووژلـی شـول، خـو د احمـد

شاه بابا د مراجعت نه وروسته مغل نه د پرنگي د جواب وو او نه يې د سکهانو مخه نيولای شوه. پرنگي د پښتون د تاريخ ژوره مطالعه کړې وه او د تاريخ د فلسفې په رڼا کې يې فيصلې ته رسېدلی و، چې د دې قوت د ماتولو صرف يوه لار ده او هغه دا چې قوم تقسيم شي او په ټوټو ووېشل شي. پرنگي خپله دغه منصوبه په کال ۱۸۹۳ کې سرته ورسوله. پښتون يې په څلورو ټوټو کې تقسيم کړو خبره رانه اوږدېږي. په لنډو تکو مطلب ته راځم. د دغه تقسيم نه وروسته يوه فطري تقاضا دا وه، چې پښتون افغان قوم د خپل قومي وحدت د ګټلو لپاره هلې ځلې کړې وي، خو له بده مرغه





دپښتون/افغان قومي وحدت دغونډو سلسله: په عکس کې دفرانکفورت دغونډې څنډې ليدل کيږي



داسې ونه شو، پرنگي په دې منطقه کې د يو حاوي قوت په حيث موجود پاتې شو. هغه د افغانستان په خاوره په غير مستقيم ډول خپل اقتدار قايم کړو. د احمد شاه بابا په خاوره چې څومره سدوزي او بارکزي حکمرانان راغلل، هغوی د خپل اقتدار د ساتلو لپاره د پرنگي لمن ټينګه کړه. دوی په خپل قوم د پرنگي په مشوره او د



پښتون/افغان قومي وحدت دغونډو سلسله: په عکس کې دفرانکفورت دغونډې يو څنډه ليدل کيږي

هغه د ترجيحاتو سره سم حکومت کولو. د دغه حکومت يوه بنيادي نکته دا وه چې د افغانستان هر حکومت بايد د هغه تقسيم د برقرار ساتلو لپاره زمينه برابر وساتي، چې هيڅ قانوني اخلاقي او انساني جواز نه لري داسې رو رو په نفسياتي ډول يو قوم په دوه نومونو وپېژندل شو. بره پښتون افغان شو او ښکته افغان پښتون شو. دا دواړه ديو قوم نومونه دي، څکه زه نن په خپل تقرير کې



افغان او پښتون يو ځای يادوم. د کرښې نه لاندې چې لفظ افغان ذکر کړی، نو د کرښې نه لاندې پښتانه ځان نه يادوي بلکې د کرښې نه بره پښتانه په نظر کې اخلي او د کرښې نه بره چې پښتون لفظ ذکر شي، نو مطلب يې د کرښې نه لاندې افغانان وي. نن زما په خيال د پښتون او افغان دغه تفريق دومره ژور شوی دی، چې که د ډيورنډ له کرښې نه پاس څوک د ازادی خبره کوي، نو هغه افغانستان ياده وي، چې پرنگي جوړ کړی دی. د کرښې نه لاندې پښتانه ځان سره نه شاملوي او که څوک د ډيورنډ د کرښې نه لاندې د قومي وحدت خبره کوي، نو پښتانه سياست مداران اول خو د قومي وحدت خبره نه کوي او که څوک يې کوي، نو د چترال نه د بولان پورې خبره کوي. يو سياست مدار هم تر دې وخته پورې د امو نه تر اباسين او دپامير نه تر بولان پورې د وحدت خبره نه کوي. دا ډېره د افسوس خبره ده چې د کوزې پښتونخوا سياست مدارانو کله د برتانوي استعمار نه د ازادې مطالبه وکړه، نو خپله ازادي يې د هندوستان د ازادی پورې وتړله. داسې د ډيورنډ د کرښې نه لاندې د پښتنو/ افغانانو مخ يې د شمال په ځای جنوب طرفته راوګرځاوه او هغه درز نور هم زيات شو کوم چې پرنگي د پښتون په وجود کې پيدا کړی وو. زما په نزد د موجوده افغانستان حکمرانانو سدوزو او بارکزو هم غلطه کوله او د لاندې افغانانو پښتنو قايدينو هم غلطه کوله. تاسو نه تپوس کوم، چې غلطه ده او کنه ؟که غلطه وه نو بيا تاسو نه



تپوس کوم، چې په غلطه پورې به تر کومه پورې نښتي يوو، کله به هغه قومي احساس رابېدارېږي، چې د واقعاتو د صحيح تجزيې نه وروسته يوې صحيح فيصلې ته ورسي او يوه قومي مبارزه پيل کړي، زه چې په خپل ځای کومې نتيجې ته رسېدلی يم هغه ما ټول عمر ښکاره کړې ده او نن د آزاد جرمنۍ په دې آزاده خاوره د يو





دپښتون/افغان قومي وحدت دغونډو سلسله: په عکس کې دفرانکفورت دغونډې څنډې ليدل کيږي

آزاد هېواد په آزاده فضا کې دا اعلان کوم، چې د پښتون/افغان مسئله صرف او صرف د قومي وحدت د ترلاسه کولو سره حل کېدای شي. لار کړکېچنه ده خو منزل ته د رسېدو بله لار هم نه شته.

ګرانو هېوادوالو!

زما د اولنــی ورځې نــه دا ایمــان دی چــې د افغانســتان موجــوده مسـئله ځکـه پېدا شـوه چــې افغــان/پښتــون قــوم د قومــي وحــدت نــه محـروم وو. کـه چېرې قومـي وحـدت موجـود وای دا اوسـني واقعـات بــه چیرې هـم منځ تـه راغلـي نـه وو او کـه راغلــي وای نــو ډېر زر بــه خپــل منطقـي انجـام یـانې د افغــان قــوم پــه بریـالیتوب سـرته رسـېدلي وای.



دپښتون/افغان قومي وحدت د



ښاغلی مشال او ښاغلی محمد نادر صدیقي د سندرو په حال کې

دا خـبره یـاده لـرئ چـه کـه قومـي وحـدت حـاصل نـه شـي، نـو نـن یــوه او سبا بـه مـوږ تـه بلـه پـېښه وي. لکـه د کـال ۱۸۹۳ نـه وروسـتو حـالات پـه دغـه خـبره دلالـت کـوي. اولانـدې پښتانـه افغانـان د وحـدت نـه نــاخبره د چـترال نـه تـر بـولان خبره کـوي. نـو دا قــام بــه چېرې هــم د بدمرغــی د سپېرو څپېړو نه خلاص نه شــي.



د قومــي وحــدت فقــدان مــوږ د کلتــوري اقتصــادي، تعلیمــي او ټولنـیزې پسـماندګۍ سـره مخـامخ کـړي یـو غــواړم چـې پــه مختصـرو ټکو پـه دغـه ټولو معـاملو د خپلـو خیـالاتو اظـهار وکـړم.

پـه موجـوده افغانسـتان کـې پـه نامـه بـاندې پښتـون/افغـان د اقتـدار خـاوند وو، خـو پـه حقیقـت کـې د ریاسـتي اقتـدار نـه محـروم و. پښتنـو غـړو د نولـس سـوه اویـاپـه عشره کـې د افغانسـتان پـه اسـمبلۍ کـي د قـانون یـوه مسـوده پیـش کـړه چـي د افغانسـتان دولتـي ژبـه بـاید پښتـو وي، خــو دغــه قــانوني مســوده نــه خــو منظـوره شــوه او نــه نــامنظوره.

منظوره ځکـه نـه شـوه چـې ریاسـتي اقتـدار د بـل پـه لاس کـې وو او نـامنظوره ځکـه نـه شوه چـې قـانوني مسـوده اکـثریت پیـش کـړې وه. پـه دغـه افغانسـتان کـې پښتنـي لبـاس او طـور طریقـه د قدامـت نخـښه او پښتـو ژبـه د جـهالت نخـښه وه. یـو داسـې خـارجي کلچـر چـې هغـه سـره د افغـانیت هـېڅ سـر و کـار نـه و، پـه زور او د اقتصـاد غلامـۍ د لارې پـه پښتنــو افغانـانو وتپلـې شـو، پـه نتیجـه کـې پښتـو ژبـه تـاریخ او کلتـور پــه خپــل ټاټوبــي کــې د اجنبیــت د سـلوك مسـتحق شـو. د پښتنـو دا حـال دی، چـې اکـثر لوسـتي پښتانـه انـګرېزي اردو، فارسـي او نـورې ژبـې لیکـی او ویـلای شـي، خـو پښتـو نـه لیکلـی شـي او نـه ویـلای شـي. موږ چې پـه کومـه سیمه کـې د یـوې پېړۍ نـه زیاتـه مـوده د پرنګیـانو غلامـۍ کـې تـېره کـړې ده، د هغـې اثـر پــه ژبــه او کلتــور لازم کـېده. زمــوږ اقتصــاد د بــل پــه لاس کــې و او بــاید دا خـبره د یــو اتــل



حقیقـت پـه حیـث ومنـل شـي چـې کـوم قــوم پــه اقتصــادي ډول آزادنــه وي. هغـه قــوم پــه سیاسـي او کلتـوي ډول د آزادۍ دعــوه نــه شــي کولای





دپښتون/افغان قومي وحدت دغونډو سلسله: په عکس کې ها لنډ د غونډې ځنډې لیدل کیږي

افغانســتان د پښتنــو/ افغانــانو دغـه لرغونــی او تــاریخي ټاټوبــی چـې د یـو قومـي وحـدت نـه لاندې د آمـو نـه تـر اباسـین او د چـترال نـه تـر بــولان پــروت دی. د رقبــې پــه لحــاظ د برصغــیر او مرکــزي آسـیا تــر منـځـه پــروت یــو پراخــه او لــوی هــېواد دی. الله جَل شــانهُ دې



سیمې تـه پـه هـر لحـاظ ډېر درانـه کتلـي دي. اقتصـادي وسـایل یـې ډېر زیـات او ډېر ارزښتمـن دي. پـه معدنیـاتو کـې اوسـپنه کویلـه سـکه، تانبـا، سـره زر، یورانیم، قدرتـي ګیـس او د پټرولـو وسـیع ذخـایر لـري. د ځنګلونـو دولـت یـې بـې حسـاب دی او ورسـره داسـې پراخـه دشـتونه او د کرونــدې مزکــې شــته، چــې کــه د آمــو او اباســیند اوبــه ور اورسـېدې نـو افغانسـتان د ټولـې سـیمې د خـوراك ضروریـات پـوره کـولای شـي. ټولـه ابـادي یـې د پېنـځه او شـپږو کـروړو تـر منـځه ده. او ښرې سر مزکه یې په ایشیا کې د ټولو نـه زیاتـه ده.

پـه معدنـي او زرعـي وسـایلو پټ او معمـور دغـه هـېواد صـرف لـه دې عملـه د غربـت او افـلاس ژونـد تـېروي، چـې د وسـایلو انکشـاف یـې تراوسـه نـه دی شـوی، خـو د انکشـاف او معدنـي او زرعـي وسـایلو نـه د کـار اخیسـتو لپـاره علـم او سـیمه یـیز امـن ضـروري دی. پښتـون/افغـان قـوم دسـکندر اعظـم نـه واخلـه تـر ننـه ورځـې پـورې وسـله



په عکس کې د پښتونولیز او لسولیز ګوند د پښتونخوا قومي پارټۍ او د جرمني سوسیال دیموکرات ګوند کولن مشران لیدل کیږي

د لاسه نه ده ایښې. قریباً هر پنځوس کاله پس دا قوم د یوې نوې پېښې سره مخامخ دی او هم دغه د ده د اجتماعي پسماندګۍ وجه ده.

پرله پسې جنګونو او بین الاقوامي سازشونو زموږ د قومي پرمختګ لار نیولې ده، خو له بده مرغه د کال ۱۸۹۳ نه پس زموږ قومي وحدت هم زموږ نه واخیستی شو. کله چې قومي وحدت حاصل وو، پښتنو افغانانو علم تر چین، تبت او ملایشا خور کړی دی د برصغیر د عالمانو بزرګانو او مجتهدینو ډېر لوی اکثریت د افغانانو پښتنو دی برصغیر به د خپلو مسئلو د حل لپاره افغانانو ته کتل . نن پښتانه/افغانان د تقسیم په وجه د سیمې د ټولو قومونو نه په علم کې وروستو پاتې دي، خو نن زما په نزد په پښتون افغان قوم کې یو ژوندی احساس غړېدلی دی، هغه احساس دا دی چې د پښتنو/افغانانو د دې ټولو ستونزو او مسئلو حل قومي وحدت دی. اګرچه په لر و بر ګنو پښتنو/افغانانو مشرانو او پوهانو کې دغه احساس د وخت د تقاضو مطابق وده نه ده کړې، خو زما دا ایمان دی چې د تاریخ څپېړې به دا ټول د قومي وحدت مرکزیت ته راغونډ وي.

زه نن یو ځل بیا په جار وایم، چې قومي وحدت زموږ فطري، قانوني او آییني حق دی، په دې منځ کې بله لار نه شته.



زمانه اکثر دا تپوس کېږي، چې قومي وحدت به څنګه ترلاسه کېږي. زما جواب دا دی چې د وحدت لار به وخت په خپله راوباسي که د یو جرمن سیاست مدار او پوهان نه چا د جرمني د یو کېدو نه یوه میاشت مخکې تپوس کړی وای، چې جرمن قوم به څنګه یو کېږي. نو چې څرنګه یو شو دا به ښخي چاپه ګوته کړي نه وو. هم داسې حل به وخت ډېر زر د پښتون/افغان د قومي وحدت لپاره په خپله راوباسي. ضرورت صرف د دې خبرې دی، چې پښتانه افغانان د ملي وحدت جذبه ژوندۍ وساتي. دغې جذبې ته د تکمیل لپاره د عملي صورت ورکول کار به وخت په خپله وکړي، فی الحال زه د پاکستان او افغانستان حکومتونو نه په ډېره کلکه دا غوښتنه کوم، چې د کربنې دواړو غاړو ته پرتو افغانانو/پښتنو ته بغیر د کاغذونو نه د تګ راتګ او تجارت آزادي ورکړي.

په آخر کې زه یو ځل بیا د دې جرګې منتظمینو ته د زړه له کومې آفرین او شاباسی وایم او د پښتون افغان قوم د بریالیتوب او وحدت دعا کوم .

**د بدرنګۍ دوه رنګۍ برګ پړانګان دي لارې نیسي**
**خــو د ښکلا مسته هوسۍ به تر بیابانه رسي**
**د وطن پېغلې مې په غاړه وړی د اوښکو امېل**
**د پاریس پېغلو ته غمې د بدخشانه رسي**
(پیرمحمد کاروان)



# دوهم پښتو نړیوال (عالمی) کنفرانس

ددوه زره ام ع کال دنوامبر دمیاشتی په دریمه، څلورمه او پنځمه نیټه دیارلس کاله وروسته په پېښور پښتونخوا کښې دوهم پښتو نړیوال (عالمی) کنفرانس د پښتو ژبې دنه ستړې کېدونکی خادم نامتو لیکوال ښاغلی سلیم راز او ښاغلی انورزېب په هڅه او هاند جوړ شوی وو. چې په بهر کښې پښتنو او سیدونکو روښانفکرانو سربېره د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند مشر ښاغلی ډاکټر کبیر ستوری، د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د مشرانو د جرګې غړو هریو ښاغلی محمد شیرین ګردیوال، ښاغلی مبارز ځاپی او ښاغلی هدایت ښنګښ برخه اخیستی وه. ښاغلی پروفیسور اباسین یوسفزی دوهم پښتو نړیوال کنفرانس پرانست، د قران کریم د مبارکو



ایاتونو د تلاوت څخه وروسته د ددی کانفرانس چیرمین ښاغلی سلیم راز په پرانستونکی وینا دوهم پښتو نړیوال کنفرانس پیل شو. په غه دری ورځنۍ کنفرانس کښې د ګهونکوونکو لخوا



د پښتو ژبې د اهمیت او پرمختیا په هکله هر اړخیزې وینا ګانې وشوې نظرونه او وړاندیزونه وړاندې شول. ددغه درې ورځنۍ کنفرانس هره ورځ په درې برخو ویشل شوې وه چې لمړۍ برخه ئې د غرمې څخه مخکې دوهمه ئې د غرمې څخه وروسته او دریمه برخه د ماښام وه چې د ماښام برخه د موسیقۍ د پاره ځانګړې شوې وه چې د پښتو ژبې د نامتو او مشهورو ګڼ شمېر فنکارانو لخوا ثقافتي (کلتوري) پروګرام پکې وړاندې کېده ، د کنفرانس په دریمه یا اخري ورځ یوه ښکلې او لویه مشاعره برابره شوې وه چې نامتو او وتلي پښتنو شاعرانو پکې حاضرینو او اوریدونکو ته خپل شعرونه واورول ،

**دوهم پښتو نړیوال کنفرانس د پرېکړو یو او وړاندیزونو یو څو اهم ټکي په دې ډول وړاندې شول.**

* د کنفرانس مرکز به د پېښور په ښار کښې وي.
* یوې خاصې کمیټې ته دې دنده ور کول شي چې د کنفرانس د هدفونو په نظر کښې نیولو سره د پښتو د ادبي، تاریخي او فرهنګي ارزښتونه تر څېړنې لاندې ونیسي
* بهرنۍ لاسوهنې دې دافغانستان په کورنیو چارو کښې پای ته ورسول شي او ملګري ملتونه دې د فلسطین او کشمیر د شخړو د حل پیدا کولو په منظور لاس په کار شي.
* د پاکستان فدارلي حکومت دې د صوبه سرحد نوم پښتونخوا قبول کړي.
* پښتو ژبه دې د پښتو کوچنیانو لپاره تر پنځم ټولګي پورې جبري او تر یوولسم ټولګي پورې د مروجې ژبې په توګه ومنل شي. د پښتو ژبې څخه دې د ښوونې او روزنې د پر مخ بیولو لپاره د یوې وسیلې په توګه استفاده ځنې وشي.
* څړول شوې تجارتي لوحې دې ټولې په پښتو ژبه ولیکل شي.
* پښتو ژبه دې د رسمي او دولتي ژبې په توګه ومنل شي.

د پښتنو تعلیمي او کلتوري موسسې دې د دوی د ملي اتلانو په نومونو ونومول شي.

* ټول دولتي اعلانونه دې په پښتو ژبه د پښتو ورځپاڼو، مجلو او جریدو ته وسپارل شي.

* دصوبه سرحد حکومت دی داحمد شاه بابا خولی او توره چې د کابل څخه غلا شوی ولټوی.
* دراديو تلويزيون خپروني دی دپښتنو دنفوسو په نظر کښی نيولو سره خپرې شی او علاوه ددې نه درايو او تلويزيون خصوصی چينلونه دی دپښتو ژبی په خدمت کښی لاس په کار شی.
* دپښتو دنړيوال کنفرانس مرکز په پېښور کښی او دهغه مربوطه څانگې په کابل، کندهار، کويټه، المان، امريکا او نورو اروپايي هيوادونو کښی په فعاليت پيل وکړی.

همدارازدپښتوژبی دنړيوالو اړيکو مرکز به په پېښور کښی پرانستل شی او دغه مرکز به په ټوله نړۍ کښی دپښتنو دکلتوری او فرهنگی فعاليتونو دانسجام لپاره واوسی.

ډېرو پخو پښتنو عالمانو په ۲۱مه پيړۍ کښی دپښتنو داقتصاد دودې په باره کښی کنفرانس ته خپل نظريات او خپلې سپارښتنې وړاندی کړی.

که دا کنفرانس بل هيڅ ونه کړی، نو دونه يې وکړه چې پښتانه يې په ادبی، ژبنی او علمی مسئلو بحث او خبرو اترو ته سره راغونډ کړل او يو ځای ئې سره کښينول، اوس وليدل شی چې څه عملی نتيجې به هم ترې راخيژی ؟

## زه او تــــه

زه د بـــی وســو پرگـنـونسب یــم
ته د بـد مستـی زما نی لیـونـی

زما تپـوس د ویـر په چـم کـی کـوه
ته د خوښیـو اوبـزمـونـو اشـنـا

وکړه با ور ما نــه خـند ا هــیره ده
ای دخندا او با نډارونـو اشـنـا

زه د بـد بـخـتـو ژوند تـه فکر وړی
ته د وخت جبرنا زولی په مـــونږ

زه د پــیـرپـو وړی تـږی یــمـه
تـه د. بر بنډ و چـټو شونډ ی زبـیښی

زه په سو کړ ک پسی نهر گرځمـه
نه وای رژیم می دی چـې چـاغ نشمه

په خـتـه زه د پـښـتـنـو نسب یـم
ته د خـو ورخـو یا رانـی لـیـونـی

(مـحـمـداجان یـار)

## د پښتون / افغان قامی نماینده او تاريخی جرگی پريکړه ليک



—— دټولـو پښتنـو دا تـاريخي او نمـاينده قـامي جـرگه داسپارښتنه کوي چې دپښتنو/ افغانانو دې قامي جرگې ته دې مستقل شکل ورکړی شي - داجرگه په ټولـو پښتنو هم دا زور راوړي چې وخت په وخت دداسې جـرگو دبندوبـس کولو په لړکښې دې ددې جرگې سره اخلاقي او مالي مرسته ملگرتيا وکړي او دگران او درونـد مشر محمد افضل خان پـه قيـادت کـښې دې جـرگې تـه دمســتقلې لارښوونـې او راهنمايي موقع ورکـړی شـي، چـې داسـې دقـام دروښانـه مستقبل پاخه بنيادونه تيار کړی شي.

—— دټولو پښتنو دا تاريخي او نمـاينده جرگه دپښتنو / افغـانـانودې قـامي جـرگې بندوبـس کوونکـو تـه دزړه لـه اخلاصه دعقيدت پيرزونې وړاندې کـوي اوپـه دې لړ کښې پـه خاصـه توگه دگران او درونـد مشـر محمـد افضـل خـان دکوششـونو سـتاينه کـوي او دا محسوسـوي چـې دجـرگې دپـاره درسـت پښتـون قـام دده احسـان منـد دی او دده نـه داطمع لري، چې په دې لړ کښې به خپـل کوششـونه جاري لري چې دپښتون قام دراهنمايۍ عمل جاري پاتې شي.

—— دټولـو پښتنـو دا تـاريخي او نمـاينده قـامي جـرگه داگڼي چې دنړۍ يو قام هم بې ديـو ښه او تکړه قيـادت نـه پرمختـگ نشـي کولـی، پـه دې وجـه دا قـامي جـرگه دامحسـوسوي، چـې دپښتنـو يـو لـوې کمـی ديـو تکـړه او



متحد قيادت کمی هم دی - دا جرگه په ټولو پښتنو مشرانو په عامـه توگه او په قـام پرستو مشـرانو او پـارټو پـه خاصـه توگه دا غږ کـوي چې دپښتـون اولـس دروښانـه سباوون پـه غـرض دړومبنـي قــدم پــه ډول خپــل واړه واړه اختلافــات پرېږدي او داسې په بره سطح داتحاد په برکت دپښتـون قـام په صفونو کښې ديو والي او تعمير بنياد کېږ دي.

—— د ټولـو پښتنـو دا قـامي جرگه دډېر غـور او فکـر نـه پس په دې نتيجه رسېدلې ده، چې په کروړونو پښتانـه لـه خپـل اصلي او تـاريخي نامـه نـه محـروم سـاتل دانصـاف، رورولۍ او دبنيـادي، انسـاني حقوقـو ښکـاره خـلاف ورزي ده، دبې انصافۍ داعمـل جـاري سـاتل دملك ديـو والـي او استحکام دپاره هم دنقصان باعث جـوړېږي. داجرگه داگڼي چې دا بې انصافي جاري ساتل دپښتنو دوجود/ تشـخص او انفراديت خلاف يو اخلاقي جرم دی. په دې وجـه داجرگه پـه موجوده حکومت غږ کوي چې له پښتنو سره په دې لړ کښې لـه بې انصـافي نـه زر تـر زره لاس واخلـي او دنـړۍ پـه ټولـو پښتنـو داغږ کـوي، چـې خپلې صوبې تـه دپښتونخـوا نـوم اخلي او هم دانوم ليکي.

—— پښتانـه: افغانـان يـو قومـي وحـدت و او قومـي وحـدت دی. انـگرېز غـاصـب دخپلونـو ابـاديـاتي غرضونـو او مفـاداتو لپـاره دوی پـه 1893ء کـښې پـه څلـورو برخـو وويشل. قومي يووالی ددوی حق دی کلـه او څرنـگ بـه کېږي. ددې حل به وخت په خپله راوباسي.



—— دپښتنـو، افغانـانو داقـامي جرگه دپاکسـتان لــه حاکمـانو نــه داغوښتنـه کـوي چـې پـه ملـك کـښې دې صحيـح وفـاقي نظام قـايم کـړي. مرکز دې صرف څلور محکمـې لـه ځان سـره کـړي چـې پــه دې ملــك کــښې دمحرومي او غربت احساس ورك شي.

—— له ټولې نړۍ دگوټ گوټ نه راغونډ شوي داپښتانه او افغانان، مشران او روښن فکران په پاکستان کښې له پښتو ژبې سره په بې انصافۍ دسخت خفگان څرگندونه کـوي او داغوښتنـه کـوي چـې دپښتـو ژبـې دترقـۍ او پرمختـگ لپـاره دې پـه رېډيـو او ټېلويـژن او نـورو سـر کـاري نشـرياتي ادارو کـښې دابـادۍ پـه تناسـب وخـت ورکړی شي. ددې سره داجرگه دا غوښتنه هـم کـوي چـې په فلمونو، ټېلی ويژن، رېډيو، سټېج او نورو سر کـاري او تدريسي ادارو کښې دپښتو ژبې او دپښتون کلتـور، تهذيب او ثقافت سپکاوی بند کړی شـي. دجرگې غـړی داغوښتنه هم کوي چې دپښتو ژبې دترقۍ لپـاره دې پـه پېښور او کابل کښې دپښتـو اکيډيميو ترمنځه رابطې تاندې کړی شي.

—— دپښتنو، افغانانو داقـامي جرگه داغوښتنـه کـوي چې په قبايلي پښتونخوا کښې دې په رايـج اېف سي ار نظام کښې د روايتي او تاريخي جرگو دخوښې او رضـا سره سم بدلـون راوستی شي او دادې يقيني کړی شي

چې په نوي نظام کښې د قبايلي پښتونخوا ازاد او خود مختـار حيثيـت متاثرنـه شـي. ددې سـره سـره جـرګه داغوښتنـه هـم کـوي چـې دقبـايلي سـيمې سـره تعلـق لرونکو پښتنو تـه دې هـر قسـمه سياسـي، جمـهوري، ائينې او قانوني حقونـه او داېف سي ار خلاف پـه هائي کورټ کښې د اپيل کولو حق ورکړی شي.

—— دپښتنـو، افغانـانو داقـامي جـرګه دپاکسـتان او افغانسـتان دوارو له حکومتونو نه داغوښتنه کوي، چې دډيورنډ دکرښې (Durandyy line) دوارو خـواوو تـه پرتـو پښتنـو، افغانـانو تـه دې بـې تپوسـه دتـګ راتـګ او دتجارت ازادۍ ورکړی.

—— دپښتنـو، افغانـانو دا نمـاينده جـرګه دپاکسـتان دحکومـت نـه په کلکه دا غوښتنـه کـوي چـې پـه افغانـانو دډيورنډ له کرښې نه دې خوا په راتګ لګولی بنديز بېرتـه واخلي او کـوم افغانـان چـې يـې نـه دي را پـرېښودي يـايې سـتانه کړي دي، مونږ ددې غـير اسـلامي او غـير انسـاني سلوک په يو غږ غندنه کوو.

پښتو ټينګه کړه پښتونه | چې هم ژبه ده هم تـوره
تـه هم دی ئی پښتون کړی | تـه هـم دا کـړه مشهـوره

پروفيسور اباسين يوسفزی



## زرغـون خـان

(مبارزځاپی)

چې نه راځی مې ستر ګو ته هيڅکله هيڅمهال | راځه خومې يو ځلی په ورشوکې د خيال
هيڅ ومې نه لیدې که مې کتلې په هر لورې | له ښاخه مې د پوهی وشلېده د فکر تال
که وهم که ګمان دی، که مې دې ځه نور حواسه | په لټه د تا ښکاري ستړی ستړی ښه ملال
وښايه چې بی چيرې؟ اوله کومې ځای مې ځارې؟ | پـه مادې هغه شوی چې راغلي پر بلال
دلمر په ځېر ښکاره شه تود مې کړه پر خپلو وړانګو | يخنی دبيلتانه تـه کړه لمبه اورد وصال
داځه د ژوند پـر سيمه مې وريا دی دغم شوې؟ | هرڅوک دی زما دښمن ته د وژلو مې دلال
چې ورنګوي سيمه ښـه زما دتـن پـه و يـنـو | ګاونډ کې مې هرڅوک دی را ولاړ لکه دجال
کودې مې پر سرمات شول دمنګي زماد کور | او به مې لاهم وچی شوی چې ځنبلی مې تول کال
ژر وښايه چې رابه شی وريا له کومې لورې؟ | منګی به راته جوړ کړي داويو کوم يـو کلال؟
بياهم به پښتانه کړي په دې سيمه دسيالی کې | سرلوړي، ښه هوسا، بسيا، نيکمرغه او ننګيـال
رايـادمې زرغـون خان شو دنـورزيـو د ټبر | هـغـه چې پښتو ناوې ته اوبدلو دسـرشال
هغه چې به مړانه کې نامتود پښتنـوؤ | هغه چې د پښتـووو د ادب د زنې خال
هغه چې به په ژبه د پښتو شعر ويــــلو | هغه چې د پښتو ادب ته و باښه جلال
هغه خـوود سيمـی دادب ښـه پــــهلـوان | هغه و په سيالانو کښې لاښه غښتلی سيال
هغه رانه هېرنه کړې د پيړيو په اوږدو کې | هغه په ياد ساته زمونږ د هريو فرهنګليال
ښاغلی هيوادمل چې په پښتو پښتون مين دی | پـه هکله د نورزی د لمانځنې وکړ سـوال
ښاغلی "هيوادمل دی او ښاغلی ئی اندونه | ښـاغلی دی کارونه لاددغه هيـواد پال
هوسا، بسيا، نيکمرغه او اوږد ژوند ورله ورکړې | جـنت کړې ورپه برخه بې خلـله بـې زوال
"انځور" نه کړې رنځور چې لاتندی ئی دی ښه پراخه | پـه "ستوريو" کړې راډ که هره خوامې دهلال
ای ته چې نه مې ذهن کې ځائيږې نه دې ونيم | ساته ما (ځاپی) هم له هرې پېښې د وبال

---

يـــادونـــه: ۱ـ "انځور" ـ زرين انځور ۲ـ "ستوريو" ـ ستورې او کورنی ئی

دغه شعر د زرغون خان نورزی د پنځه سوه کلن تلين په مناسبت ليکل شوی او په هغه غونډه کښې چې په دې هکله د جرمنی د کولن په ښار کې په (۲۰۰۱/۳/۳) نيټه د پښتنـو د کلتـوری ټولنی له خوا جوړه شوې وه لوستل شوې دی.



## پښتو

عمر پاځون

که څوک غواړی پښتو ژبه دی غنی کړی
په ملـت کښې دی رايجه کړی ملی کړی
بيـا دی سيـالـه دقلـم او د کتـاب کړی
په حکومت کی دی داخله کړی رسمی کړی
چې دکار او د دوډۍ بيا وسيـلـه شـی
په ښوونځی کی دی شامله تعيلمی کړی
کتـابونـه، مجلی او اخبارونه دی خپرې.
بر ښنائی ميډيا دی ډيره کـړی قـوی کړی
چې ليکونکی او لوستونکی دغه قوم شی
پښتانه دی بيا پښتـو باندی سيالی کړی
پيـژندل پـه ملی ژبـــه دود د ستـــور دی
يـادول دی پـه ملـت بـاندی جبـری کړی
خپل وحدت دی په ملی ژبه راټينګ کړی
تـمـاميت دخپلی خاوری دی خوندی کـړی

پښتونخوا

خپل ننګ غيرت پښتو حيا به ګټم | دسر په بيـه پښتونخوا به ګټـم
چې مائی نوم اخستی دا به ګټم | ضدی پښتون يم په ډيران ارټ بايلمه
دپښتونخوا نوم پری ليکمه
د پښتنو پيـژندګلو پښتونخوا | ده يوه سيمـه دزمرو پښتـونخوا
زمونږ دلويو د وړو پښتونخـوا | ملګروزه ئی په جنت باندی بايلمه
دپښتونخوا نوم پری ليکمه

(اکمل ليونی ـ مردان)

ژبه او کلتور د قام او وطن په ابادی کښې مهم رول لوبوی، لدی امله د پښتنو ټولنيزاو لسوليز ګوند د خپلی ژبی او کلتور پر مختګ خپله بنسټی دنده ګڼی.

[د PSDP د منشور څخه]

دپښتونولی، ټولنولی او اولسولی د پښتنو د ټولنيز اولسوليز ګوند تاداو او بنسټ جوړوی.

[د PSDP د منشور څخه]

د پښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند د ټولو اولسـونو د خودار اديت او خپلواکی د حق دفاع او ملاتړ کوی او استعمار په کلکه سره غندی.

[د PSDP د منشور څخه]

**دفکر، نظريو، مظاهرو، جلسونو او اړتال ازادی بی د رنګ، نسل، ښځی او نر د امتياز څخه د پښتنی ټولنيزی اولسولی بنسټی غوښتنه ده.**

[د PSDP د منشور څخه]

**ازادی، عدالت (انصاف) اوورورولی د پښتنی ټولنيزی اولسولی غوښتنی دی.**

[د PSDP د منشور څخه]

کهسپوره وی که پوره په شريکه به وی (باچاخان)

**Das Brot, ob belegt oder troken, wird unter allen gemeinsm aufgeteilt**

**(Batscha Chan)**

**Butterd or unbutterd bread will be common**

**(Bacha Khan)**